**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي تېوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او**

**شکایتونو اورېدو وزارت**

**د دفتر لوی ریاست**

ګڼه ۲۱۴۴/۲۴۰۹ نېټه: ۱۴۴۴/۱۲/۷ هـ ق

د کابل ښاروالۍ محترم ریاست ته!

السلام علیکم ورحمت الله و برکاته!

موضوع: د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام د شفاهي لارښوونې په هکله.

وبعد: د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظ الله د شفاهي لارښوونې په اساس، له ۱۴۰۲/۴/۳ هـ ل نېټې څخه تر ۱۴۰۲/۵/۳ هـ ل نېټې پورې دې د کابل ښار او د هیواد د ولایتونو په کچه د مېرمنو سینګارتونونو (آرایشګاه ګانو) ته وخت ورکړل شي چې د ټاکلې مودې څخه وروسته د دوی کاري فعالیتونه ممنوع او همدارنګه له ۱۴۰۲/۵/۳ هـ ل نېټې څخه یې اخیستي جوازونه او قراردادونه اعتبار نه لري.

په دې توګه پورتني مراتب ستاسې د معلوماتو او د راتلونکي اجراأتو لپاره له تاسې سره شریک شو، تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه د عالي مقام د لارښوونو په پلې کولو کې اړین اجراأت ترسره او د خپلو اخیستل شویو ګامونو په هکله دې وزارت ته ډاډ ورکړئ.

د ولایتونو د چارو د همغږۍ امریت دې پورتنۍ لارښوونې (۳۴) ولایتونو ته تکثیر او ابلاغ کړي.

**والسلام**

**شیخ محمد فقیر محمدي**

**د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت مسلکي او د پالیسۍ معین**

**کاپیانې:**

د سینګارونکو (آرایشګرانو) د صنف محترمه اتحادیه

د کابل ښار د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو ریاست

د ولایتونو چارو د همغږۍ آمریت

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي تېروتنې د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

ادرس: د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزارت، د دارالامان سړک، د استخباراتو (۰۵) ریاست ته څېرمه.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.